پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۲/۰۵

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا
# او له دې پلوه په سیمه کې دافغانستان دریځ

*« ...اوس افغانستان دمنځنی آسیا او جنوبی اسیا یوه مهمه برخه گرځیدلی اوهیڅوک یې له اهمیت ځخه سترگی نشی پټولای... دوکتورمحمد اشرف غنی»*

پنځمه برخه او پای

## منطقي دکومو شرایطو له مخې رامنځته کیږي؟

*دیوې اقتصادې منطقې دتشکیل لپاره درې دلایل یاعوامل موجود دي:*

**I. نسبی مزیت:**

ځانګړې سیمې د ځانګړو بنېګنو له مخې د یو شمېر اجناسو په تولید، یا د یو شمېر خدماتو په عرضه کې د نورو په پرتله اوچتوالی لري، دغه د یوې سیمې برتري نظر بلې ته نسبي مزیت بلل کیږي.

د بېلګې په توګه د کرنې په سکتور کې د ننګرهار ولایت د خپل مدیترانه یي اقلیم له مخې د ستر وسو کورنۍ میوو په تولید کې د هېواد د نورو سیمو په پرتله برترې لري، حال دا چې پروان او کندهار د انګورو د کیفیت او کمیت له پلوه، او کاپیسا د انارو په تولید کې اوکندز د ختکیو په تولید کې اوچتوالی لري، همداسې هم د کانونو له مخې د یو شمېر طبیعي زیرمو او آن د کار ځواک د ځانګړې تجربې او مهارت له مخې دغه ډول برترې د پېژندلو وړ ده . نه یوازې د یو هېواد دننه بلکې په ټوله نړۍ کې همهېوادونه په ځینو برخو کې د نسبي مزیت لرونکي دي.

همداسې هم په یو شمېر سیمو کې د یو شمېر اجناسو تولید نظر نورو ته ډېر ارزانه تمامیږي، دې ته نسبي ټیټ لګښت هم ویل کیږي، په دې توګه د نسبي مرزیت او نسبي لګښت (Comparative cost) په یوه معنا سره راتلای شي، نسبي لګښت هم د سیمې او هم د هېوادونو په کچه مطرح کېدای شي، د بېلګې په توګه په یوه ټاکلي هېواد کې یو ټاکلی جنس د هغه د خامو توکیو د پریمان او ارزان له امله زیات تولیدیږي، نو ښکاره خبره ده چې دغه هېواد ته یې

تولید ډېرګټور تمامېږي،  د ریکاردو په نظر یو شمېر سیمي یا هېوادونه د اجناسو په تولید کي د مطلق مزیت ترڅنګ نسبي مزیت یا ښېګڼه هم درلودای شي.  دا هغه حالت دی چي د دوو سیمویا هېوادونو ترمنځ د سوداګری ګټور توب پرتله اوتوضیح کوي.  که چېری A هېواد د B هېواد په پرتله یو یا څو اجناس په لږ لګښت تولید کړي او ددغه جنس په تولید کي تخصص پیدا کړی، په دې توګه A هېواد کولای شي همدغه جنس چي تولید یې ورته په لږ لګښت تمامېږي، او تخصص پکي لري تولید او B هېواد ته یې صادر کړي، نو ورته ګټور دی.  په دې توګه A هېواد نوموړی جنس یا اجناسو یو بازار تولید لري او صادروونکی هېواد دغه جنس ته اړتیا لري ځکه چي تولید یې ده ته ګران پرېوځي، نو په دې توګه دا د کار نړیوال وېش او تجارت ته یو اساس جوړ وی، چي د نسبي مزیت یا پرتله ییزي ښېګڼي د قانون په نوم نومول شوی دی. د مطلق مزیت نظریه Absolute Advantage Theory وایی چي: که یو هېواد نظر بل هېواد یا نورو هېوادونو ته یا یوه سیمه نظر نورو سیمو ته د یوه جنس په تولید کي یو شمېر غوره توبونه لکه د خامو توکو کافي شتوالی، د کار ځواک لرل، مهارت، مساعد اقلیم، جغرافیایي ښېګڼي او داسي نور ولري او دغه مزیت د نسبي مزیت په پرتله هم اوچت او لا زیات غوره وي، مطلق مزیت بلل کېږي.

## II. دترانسپورت لګښت

هغه مساعدې منطقي چي لویو ښارونو او مارکیټونو ته لنډې وی او دتولیدشویو اجناسو لېږد ارزانه تمامېږي. یادخامو توکو سرچینوته نږدې واټن کي دمنطقي استقرار، چي دخامو توکو لېږد آسانه شی.لکه پخوا چي دتنګی غارو دمرمرو او رخامو معدن ته نژدې په پلچرخی کي د مرمرواو د رخامو فابریکه جوړه شوې وه یا په کندز کي  دلبلبو او مالوچودتولیداتو دپروسس په خاطر دشکرې او سپین زرد‌فابریکي تأسیس  او داسي نور مثالونه .

## III. د مقا یسي له پلوه عواید

هغه ساحات چي دانرژیکی منابعو (بریښنا، ډېرو سکرو اونورو) له مخي دا توانایي لری چي په عصری تکنالوژی تولید ترسره کړی، نو دلاس پرځای تولیدپه پرمختللی تکنالوژی او ماشین باندې بدلېږي.

## IV. سره نږدې تولیدات اوخدمات

زیاتره وخت یوشمیر ماشینی صنایع له نوروسره نږدې وی.نوکه یوصنعت په یوه منطقه کي تأسیس او استقرار مومی، ورسره نور نږدې صنایع هم ورلېږدي، دبېلګي په  توګه که دمالداري په سیموکي دځرمن تولید ترسره کېږي یاد ټرانزستور رادیو ګانو فابریکو سره دوچو بطریو دتولید فابریکه، دبوټانو دتولید د فابریکي ترڅنګ د بوټانود بندوونو دجوړولو فابریکه، فابریکو ته نږدی د هوټلونو جوړیدل اوداسي نور. په دې توګه دمنابعو تحرک اقتصادی مناطق ایجادوي  او نور هم انکشاف ورکوي.

نیوکلاسیکان وایي چي یوه لوری ته دکار دمهارت، پانګي، دتولیدی سرچینو تجمع او ورتولیدل هم داقتصادي منطقي یامنطقوی اقتصاد داسقرار او ایجاد دلامل ګرځی. دوی وایي چي زیات شمیر اوسنی پرمختللی مناطق د همداسي یوه حرکت زیږنده دي چي په یوه اوږده موده کي  ترسره شوی وي.

د اقتصادی فعالیتونو د موقعیت د تحلیل په برخه کی هغه لومړنی پوښتنه چې مخې ته راځی، هغه داده چې په یوه منطقه کی کوم شی یا کوم شیان او فکتورونه د په کار اچول شوی پانګې اندازه او ډول ټاکي؟

آلمانی الفرد ویبر په ۱۹۰۹م. کال کې د تولید د موقعیت موډل رامنځته او هغه ته یې انکشاف ورکړ. په دغه موډل کې داسی فرض کیږی چې تصدئ په یوه جغرافیایی فضا کې یوه نقطه ده او په عمومی توګه یوه تصدئ د یوې منفردی یا ځانګړی دستګاه په توګه فرض کوی (حال دا چې یوه منطقه کی ځینې وخت ډیرې تصدئ وی). تصدئ ته د مفاد د معقولانه اعظمی کولو فرضیه دا پوښتنه را پیدا کوی چې آیا باید تصدئ په کوم ځای (محل) باید موقعیت ولری؟ فرضیه دغه پوښتنه په دی بلې پوښتنې رااړوی یا انکشاف ورته ورکوی چې آیا تصدئ په کومه نقطه کې غواړی چې خپل مفاد اعظمی کړی؟ دلته نسبیی مزیتونه، د موادو بیې، د تولید مصرف، بازار سره فاصله او محلی پوتانسیل دغو پوښتنو ته خواب وایی. د اوږدو مطالعاتو او څیړنو په ترڅ کې هم کلاسیکانو او هم نیوکلاسیکانو دی برخی کی کار وکړ او څو موډدلونه یې وړاندی کړل. نن ورځ هیوادونه دمنطقوی اقتصاد تیوری او موډلونو(دواړو) ته اهمیت ورکوی او هغه عملاً تر کار لاندې نیسی.

د اقتصادی انضمام او دنړیوالتوب (globalism ) په اوسنی دور کې نړیوالو لویو اقتصادی سازمانونو ته د جوړیدو لاره هواره شوی ده او په دې برخه کی نوری هڅې هم روانې دي. له همدې فرصت څخه په استفادی سره د منطقوی مرستو لپاره هم موقع برابره شوه او یو شمیر هیوادونو وکولای شول چې منطقوی تړونونه او منطقوی اقتصاد راجوړ کړی.په تیره بیا په اروپا کې د تړونو او توافقاتو بنسټ د آلمان، فرانسی، ایټالیا، بلجیم، هالند او لوکزامبورګ د هیوادونو د توافق په پایله کې کینودل شو. دغه پیښه د ۱۹۵۷م. کال د مارچ په لومړئ نیټه وشوه، چې پایله یې بیا په ۱۹۵۸م. کې د جنوری په لومړی نیټه د اروپا د اقتصادی ټولنې رامنځته کیدل و. دغه تړون د دې لامل شو چې د لویدیزی اروپا هیوادونه وکولای شی چې د نړی په کچه د کورنیو تولیداتو تر ټولو یو لوی بازار رامنځته کړی، له دی سره یوځای دوی خپل اقتصادی او سیاسی تړون او پیوستون او یووالی نور هم کلک کړ.

په شمالی امریکا کې لومړنی منطقوی موافقه او اقتصادی تړون په ۱۹۶۵م. کال کې د متحده ایالاتو او د کاناډا ترمنځ لاسلیک شوه، چې مهمه برخه یې د موټرو او د موټرو دپرزو د آزادې سوداګری په هکله وه.

په آسیا کې یوه مهمه منطقوی موافقه د آسیا د جنوب ختیزو ملتونو ترمنځ وه چې په ۱۹۶۷م. کال کې د (Association of South east Asian Nations - ASEAN ) په نوم رامنځته شوه. دغه تړون و کولای شول چې د اندنیزیا، مالیزیا، فلپین، سینګاپور او تایلینډ د هیوادنو ترمنځ قوی خپل منځی اقتصادی ، کلتوری او ټولنیز روابط کلک او دوی ټول د سولی او ثبات خواته اوچت ګامونه واخلی چې اوس هر یو پیاوړی او پر مختللی اقتصاد لري. همداسې هم په افریقا کې ورته ګامونه اوچت شول.

افغانستان په سیمه کې ډیر یو پیاوړی او مساعد ستراتیژیک ارزښت او خاص منطقوی دریځ لری، که موږ غوره پالیسی ولرو له دغه موقعیت څخه د سرو زرو په شان ګټه اوچتولای شو. زموږ موقعیت هم زموږ لپاره او هم د ګاونډیو هیوادونو او د مرکزی آسیا، جنوبی آسیا او د دوو نویو لویو اقتصادونو (هند او چین) لپاره مهم دی. افغانستان کولای شی د تجارت او تمدن په څلور لارې واوړی (لکه زرګونه کاله مخکی یی چې همداسې یو غوره

درځ درلود) او د سالم رقابت له  لارې  د سيمې هيواو ته په يوه غوره اقتصادي دهليز بدل شي. افغانستان د سيمې دهيوادونو د اقتصادي زيربنا ودې او د ترانزيت  او ليږد امکان برابروی.

## افغانستان او د منطقې اقتصاد

افغانستان له جغرافياوی پلوه په سيمه کې فوق العاده اهميت لری. افغانستان د منځنی آسيا، منځنی ختيځ او د جنوبی آسيا تر منځ د يوه پله حيثيت لری او د سيمی د لويو او نويو اقتصادونو (هندوستان او چين) لپاره نړيوالو بازارونو ته د لاری په توګه ارزښت لری. په سيمه کی د تاريخ په اوږدو کی داسی مدنيت نه و او نشته چی پرته د افغانستان له ګډون څخه رامنځته شوی وی. د تجارت لرغونی او ډيره مهمه لاره (د وريښمو لار) Silk Routh له افغانستان څخه تيريدله او په معاصر وخت کی يې يو ځل بيا خپل مهم ستراتيژيک اهميت بيا وموند. په سيمه کی د نوی وضيعت راڅرګنديدو دا وښوده چی په سيمه کی منطقه يی اقتصاد ته اړتيا ده او د لاجبرو او وريښمو لاره بايد بيا نوی شی. د روسيې، چين او هندوستان ورځ په ورځ پياوړی کيدونکی اقتصاد په منطقه کې يو نوی وضعيت ايجاد کړی دی چې د افغانستان همکاری ته اړتيا لری. افغانستان همدا اوس د سيمی يو شمير منطقه يی جوړښتونو لکه  ECO, SCO او SAARC کی فعال ګډون لری. په دې وروستيو کې د لاجوردو لار هم پرانيستل شوه. دلته به د دغو سازمانونو پيژندنه راسره مرسته وکړی چی د افغانستان دريځ جوت شی.د مالونو تبادله ترانزيت او بهرنی سوداګری د نن ورځی د اقتصاد يو مهم بحث دی. زياترو هيوادونو خپل اقتصاد د ترانزيت او سوداګری له لاری ښه کړی دی. له نيکه مرغه افغانستان د خپل جغرافياوی موقعيت له پلوه په يوه ډيرښه دريځ کی دی. تاپي پروژه، کاسازر(د نوری فايبرپروژه) او د منطقي درېل پټلۍ پروژه د دې ډول منطوی همکاری ښه مثالونه دی.  افغانستان کولای شی له خپل ستراتيژيک موقعيت څخه په استفادی د مرکزی آسيا او جنوبی آسيا ترمنځ د يوه پله حيثيت ترلاسه او د تجارت په څلورلاری بدل شی. افغانستان ډير پخوا هم کله د وريښمو د لاری پر سر پروت و او کله يی د لاجوردو د لاره مهمه برخه جوړوله. اوس چی يو ځل دا امکان برابر شوی دی چی مرکزی آسيا له جنوبی آسيا سره وصل شی، د افغانستان لپاره يو ډير مساعد فرصت دی. د افغانستان مهم دريځ ته په ترکيه کی (د آسيا زړه) په کنفرانس کی د شانګهای د سرمشريزی په غونډه کی او په ۲۰۱۶م. کال کی د عشق آباد د نړيوال ترانزيت په غونډه کی دی مهمی موضوع ته اشاره وشوه او د سيمی هيوادونو په تيره بيا تاجکستان، چين، ترکمنستان، هند او ازبکستان کلک ليوال دی چی د افغانستان لاری خپل منځنی سوداګری پياوړی کړی، د چين هيواد ته د افغانستان له اقتصادی او ترانزيتی پلوه ډير اوچت ارزښت لری، له بلی خوا دا به افغانستان لپاره يو ډير ښه فرصت وی چی د سيمی د هيوادو له علاقمنديو څخه او د ,ECO SCO, WTO او SAARC په سازمانونو کی د غړيتوب په لرلو خپل اقتصاد ته پرمختيا ورکړی.

په نړيوال تجارت او اقتصاد کی ورګډيدل او د Globalism په اوسنی دوران کی خپل اقتصادی دريځ پياوړی کول د اوسنی عصر يوه تازه او نوی غوښتنه ده. هيڅ هيواد له نړيوال اقتصادی کاروان څخه په انزوا کی نشی پاتی کيدای. له بده مرغه افغانستان له نن څخه ۱۳۰ کاله مخکی له خپلو طبيعی سرحداتو څخه محروم او د استعماری ځواک له استعماری تصميم سره سم يی يوه برخه جلا او له نړيوالو اوبو سره يی رابطه پری او په وچه پوری يوه ايسار هيواد باندی بدل شو، دا هغه وخت و چی د نړۍ د تجارت مخه له وچی پوری ايسار او د نړيوال تجارت څخه ګوښه شوی دی، دا دی يو ځل بيا په سيمه کی داسی يوه اړتيا او تفکر رامنځته شوی چی د مرکزی آسيا هيوادونه له جنوبی آسيا

سره تجارتی روابط ولری او د ترانزیت لاره به له ختیځ ځخه تر لویدیځ پوری له شانګهای او قراقرم څخه تر ترکیی، ارمنستان او اروپایی هیوادو پوری ورسیږی. کله چی د Euro – Asia نظریه باندی کار کیده، افغانستان ورته مرکزی نقطه ټاکل شوی وه په دی کی یوه هم د وریښمو لروغونی لاره ده.

د شانګهای غړی د Euro Asia طراحان او د مرکزی آسیا هیوادونه په دی فکر کی دی چی د وریښموډیره لرغونی لاره وه، یو وخت د وریښمو اوولاجوردو تجارت له دی ځای څخه کیده، اوس به یو ځل بیا دسیمی تجارتی لارې له افغانستان څخه پیل تیریږی، د افغانستان له شمال څخه تر تیریدو وروسته به د دوست او ګاونډی هیواد ترکمنستان تر (ترکمن باشی) بندر پوری ورسول شی. وروسته به اروپا ته ډیر لنډ هیواد یعنی آذربایجان ته ځي. هلته به د باکو له تاریخی ښار څخه د ګرجستان تفلیسی ته او له تفلیسی




څخه په ترکیی ته ورسیږی. د ترکیی د هیواد هغه ډیره مساعده بندری منطقه چی د اروپا خواته به د (مبدا بندر) حیثیت ولری. د (قارس) سیمه ده د قارس سیمی د ترکیی د ځمکنی ترانسپورت په واسطه له استانبول سره نښلی چی وروسته له هغه استانبول بیلابیلو اروپایی هیوادو ته لاره لری. په دغه ټول مسیر کی د وسپنی پټلی موجودی او فعاله دی، صرف په څو نقطو کی د هغو وصل کول په کار دی. اوس چی له آقینی څخه د ریل پټلی هیواد ته رارسیدلی او له هغه ځایه د حیرتان بندر ته غځول کیږی، داسی پلان هم موجود دی چی د آقینی څخه به د هرات خواته ځي او له هغه ځایه به تر زرنج پوری ورسول شی له زرنج څخه تر چابهار پوری د هندوستان هیواد مرستی ته تیار دی چی د وسپنی پټلی وغځوی په دی توګه به اروپا له ټولی آسیا او په آسیا کی تر ټولو لوی هیواد (هندوستان) سره وتړل شی چی افغانستان به یکی محوری نقطه وی. په دی کی پاکستان هم ډیر لیوال دی چی له باکو بندر سره ونښلی. د افغانستان او په دغه مسیر کی د پرتو هیوادو لپاره د دی لاری اهمیت یوازی په دی کی نه دی، چی ترانزیت به لنډ او ممکن او د وچی بندرونه به وصل شی، بلکی بل ارزښت یی دا دی چی یوه واحده تعرفه به وټاکل شی او ډیر بندیزونه به لری شی. افغانی محصولات (غالی، انار، انګور، ختګي، لاجورد او ډیر نور) به په ډیره ښه بیه بهر ته ورسولای شو.

د وریښمو(لاجوردو) د لاری پر سر د پرتو هیوادو تر ګټو به زمونږ ګټه زیاته وی. دا ځکه چی:

- په فاریاب، بلخ، کابل، کندهار(که ممکنه وی هرات کی) به د تجارت دفترونه او د دغه مسیر د ترانزیت او د ګمرک تاسیسات جوړ او منطقوی اقتصاد به رونق پیدا کړی.
- د ۲۵۰۰ تنو شاوخوا به افغانان پکی استخدام شی (د محلی کار کوونکو تر عنوان لاندی)
- دانتقال لګښت به فوق العاده کم شی.

- چین غواړی د خپلو توکو په صادرولو سره د دغی لاری په خاطر د افغانستان دولت ته ټاکلی ترانزیت ورکړی چی د دی ګټه د تجارت حجم پوری اړه لری او دا به د تجارت په پیل کیدو سره ثابته شی، خو خامخا به له دی مدرکه کافی اسعار د افغانستان په برخه شی.

- مونږ به د تورغونډی او اقینی په شمول پنځه د وچی بندرونه ولرو چی نړیوال تجارت به ورباندی ترسره کیږی.

- د افغانستان د محلی تولیداتو د پلورلو امکان به برابر شی.
- د ترکمنستان، ترکیې، آذربایجان او گرجستان هیوادو سره به نژدی اقتصادی – سیاسی او کلتوری اړیکی رامنځته او دغه تاریخی دوستان به نور هم په روابطو کی سره نژدی شی او گمرکی مشترک (ګډ) عملیات به په ګډه پر مخ بوځي چې افغانستان ته ګټور دی.
- د پورتنیو هیوادونو له گمرکونو سره د افغانستان د گمرک ترل کیدل به د افغانستان د گمرک د کارکوونکو ظرفیت ته ډیره ګټه ورسوی.
- افغانستان به د ایران او پاکستان له سیاسی فشارونو او ځینی وخت د تجارو د ځورولو او د لاریو له درولو خلاص او سوداګری به ګړندی شی او له ترلتیا څخه به د افغانستان ډیر ښه بدیل او ایلترناتیف وی.

له تیرو یونیم سلو کالو راهیسی افغانستان له تجارتی پلوه بد حالت کی دی، خو په له هغه څخه مخکی بیا ۲۰۰۰ کلونو وراندی پوری افغانستان د مدنیتونو څلور لاری او د تجارتی کاروانسرایونو او تجارتی لاری (د وریښمو لار) مهمه کړی وه. اد دی اوس یو ځل بیا دا زمینه برابره شوی چی افغانستان له خپل جغرافیاوی مهم موقعیت څخه ګټه پورته کړی او له نړیوال اقتصادی بهیر او تجارتی کاروان سره ګام اوچت او خپل اقتصاد پیاوړی کړی خو مهمه دا ده چی د دی چاری او امکان لپاره په دقت سره د کار نقشه جوړه شی.

## REFERENCES اخځ


۱. دودیال، محمد بشیر. (۱۳۸۶) د طبیعي منابعو اقتصاد. د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت چاپ: کابل- افغانستان
۲. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۶)، منطقوی اقتصاد ، درسی کتاب .ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال اباد- افغانستان.
۳. صباغ کرمانی، مجید. (۱۳۸۰) اقتصاد منطقه ای. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهي (سمت) : ایران –تهران
٤. حافظ نیا، محمد رضا. (۱۳۸۴)، افقهای جدید در جغرافیای سیاسی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهی (سمت) : ایران- تهران.
٥.
٦. Blair. P. J. (۱۹۹۱). Urban and Regional Economics, Richard Irwin Inc.
٧. Raleigh Barlewe (۱۹۸۰), Land Resources Economic (The Economics of Real property), Michigan state University
٨. Karl, Helmut. (۲۰۰۸) Economic Policy. Ruhr-University, Bochum – Economic Policy Department III
٩. Nijkaup, P. (۱۹۸٦): Handbook of Regional and Urban Economics, (Vol.۱) Elsevier publshers
۱۰. Losch, A. (۱۹٦٤) Regional Development and Planning, MIT press.



یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!